# د وزيري لهجې دود

## The Patterns of Waziri Dialect

Prof Dr. Nasurullah Jan Wazir*

**Abstract:**

In this article the writer strives to unpack such unique characteristics of Waziri dialect of Pashto language which has not yet been explored by the researchers or linguists. In addition most of the linguists considered Dawari, Banosi, Paktiaye, Wardaki and Gorbzi quite separate dialects as Waziri which are actually branches of Waziri. It is worth mentioning that although some of the linguists accept the afore said dialects parallel to Waziri dialect yet the writer proved them as branches of Waziri dialect by giving valid arguments. The writer compares assorted aspects of these dialects to Waziri dialect and eventually proved similarities found in them such as in accent etc. On the basis of which writers is sure that the Waziri dialect is the mother of these dialects

د اِنسان په اِمتيازي صفاتو کښې تر ټولو لومړی په خپله د انسان وجود دی چې د غوره صفاتو حامل ګرځول شوی دی، چې په فکري توګه په ځينو مواردو کښې د خپل اِختيار او واك څښتن کېدل او له يو شمېر نورو اوصافو پرته د اظهار له موثره ذريعو څخه يوه مُهمه ذريعه د نطق يا د ګويائي هنر ور په برخه کېدل دي.

ژباړه : غږېدن د انسان ټوليزفطرت، ساز او سنګيت ورلره د ژوند همېشنۍ جذبه او د ژبې اِيجاد ئې دجذباتو د تسکين عملي پهلو ده. قدرت انسان لره د ګويائي غوره ذرائع وربخښلي دي او د مځکې په مختلفو خطو کښې اباد انسانانو د غږ او غيږ (ژغ او ژيغ) له عالِم څخه ورلره اوازونه را چهاڼ کړي او ترې ئې د خپلو ژبواساسات برابر کړي. بيا ئې ورپسې د غږونو له ريګ او سيمنټ څخه د توريو خښتې ټهاپلئې او

---

* Prof. Dr. Nasurullah Jan Wazir is Chairnan at Department of Pashto, University of Balochsitan Quetta

پټې ئې تر جوړې کړې، دېوالونه او متې (ستنې يا ستون) اودرولې، چهتونه ئې پر اچولي او د پلاټ متناسب او متوازن تقسيم او د ډيزائن رنګينې او زړه وړتوب په کمالاتو سره ئې د ژبې يو لوئ عالي شان محل اودرولو، خود ژبې يواځينی اساس غږ او ګرځولې شو". (۱)

هغه وخت کله چې انسان په ډلو، ډلګيو، ټولنو، ټوليو، طبقو او جغرافيه کښې ځله وېشل کېدۀ نو علت ئې د انسانانوتر منځه که يوه خوا د رنګ په بنياد اختلاف وۀ نو بلې خوا ئې ژبنې توپير مهم عنصر ګڼل شوی. لکه د رنګ او نسل په توګه: تورپوستکي (زنګي النسل چې افريقن نژاد هم ورته وئيلې شي)، زيړ پوستکي يا چينئ النسل اود نړۍ ترټولو زيات قوي نسل سپين پوستکي ياد يدلی شي. په دغه ځير په ژبني توګه هم د نړۍ اقوام په څو ډوله ځله وېشل شوي لکه: اريائي، سامي، چيني، ترکي، افريقي او ځينې نور.

په نړۍ کښې يو وخت داسې وۀ چې په انسانانو کښې په زرهاو ژبې وئيل کېدې، تر دا چې په يوه جغرافيه کښې به هم بېخي ډېرې ژبې ځله وئيل کېدې، يعني چرې چېري چې څومره قومونه وو هغومره ئې ژبې وې. خو دوخت په تېرېدو او دزماني د تغيراتو له کبله ډېرې ژبې له مينځه اووتې او د ډېرو ژبو په داخلي ساخت کښې لوئ بدلونونه رامنځته شول. هغه ژبې چې اولسونه ئې کمزوري، مغلوب يا محکوم وو، د هغو ژبې هم په هغسې خپل برم پاتې نۀ شولې، خوهغه اولسونه چې په خپله او هم په نوروغښتلي، قوي، غالب يا حاکم وو، نۀ يواځې د هغوئ ژبې ژوندی پاتې شوې بلکې د خپل غښتلي ملت د پام وړ هم اوګرځېدې. خوچونکې دا د يو ارتقائي عمل تقاضه هم ده چې هر شی د ارتقا د قانون تحت تغير مومي. په دا اساس په نړۍ کښې د ځينو ژبو پرمخ تلګ اويا د ځينو له مينځه وتل په هر زمان د حالاتو په مطابق واقعت موندلی. البته په اوس مهال کښې به دومره ضرور شوي وي چې د سائنس او د ټېکنالوجۍ د چټک رفتار له کبله به دا عمل څۀ ګړندی شوی وي. ديوې اندازې مطابق اوس مهال په نړۍ کښې څۀ اووۀ يااوونيم زره ژبې داسې دي چې په نړۍ کښې يو ځائ بل ځائ وئيل کېدلې شي،

خو پـه دغـو کښـې هـم يـو شـمېر بيـا دغسـې دي چـې د نـن زمـانې د چټـك رفتـار لـه کبلـه د هغـوئ وجـود لـه خطـر سـر مخـامخ شـوی. ځکـه اوس ډېـرو قـوي ژبـو تـه هـم دا ويـره وراچېـدلې ده چـې څـۀ ډول بـه هغـوئ اوکـولی شـي چې له دې مُشکل حالاتوڅخه ځان اوباسي.

پښـتو چـې پـه تـاريخي توګـه يـوه لرغـوني اريـائي ژبـه ده او پـه تـاريخي څېړنـو کښـې ئـې قـدامت لـه درې زره کالـه څخـه نيـولی تـر پينځـه زره کالـه پـورې (د بېسـتون او د منـډيګك د ډبـر ليکونـو او لرغـونې ودانيـو پـه اسـاس) يـادَوۀ شـي.خو تـر دې بحـث کـه راتېـر شـو، او پـه اوس مهـال کښـې پښـتو د نـړۍ د ژبـو پـه قطـار کښـې اوځيـرو، نـو د ژب شـميرنې د يـوې سـروې (د نـړۍ د ژبـو کېـټلاګ پـه بنيـاد) پـه اسـاس پښـتو لـه هغـو يـو څـو لـوړو ژبـو څخـه ده چې تر پينځه کروړه زيات وئيونکي (نفوس) لري.

د ژبنـي سـاخت او د ګرائمـري چوکـاټ لـه رويـه د پښـتو ژبنـې اثـار لـه يـوې خـوا کـه پـه سنسـکريت او اوسـتا کښـې ترلاسـه کېـږي (پـه سنسـکريت کښـې د پښـتون قـوم او د پښـتنو د وطـن د ځينـې علاقـو، دريـابونو، علاقـو او قومونـو پـه حقلـه بيـان او پـه اوسـتا کښـې د پښـتون قـوم او د پښـتو ژبـې د توريـو مقايسـوي څېړنـې او مطابقـت پـه اسـاس)، نولـه بلـې خـوا پښـتو د ځينـې حروفـو پـه ادائيګـي کښـې لـه انګليسـي او فرانسـوي ژبـو سـره خـورا نـږدې اړيکـې لـري لکـه: د پښـتو پـه شـمالي لهجـه کښـې د'ج' صـوتي ادائيګـي، چـې د انګرېـزي ژبـې حـرف'جي' صـوتي طرزتـه ښخـي ورتـه والـی لـري لکـه: د بېلګـې پـه توګـه:د انګرېـزۍ دغـه تـوري وګـورئ : اېجنسـي، ټېکنـالوجي، جرنـال، پروجېکـټ، جېنـوو، جرنلـزم او ځينـې نـور. هـم دغسـې د پښـتو پـه شـمالي لهجـه کښـې دحـرف'ج ' صـوتي ادائيګـي پـه مثـال د انګرېـزي د حـرف صـوتي تغيرتـه اوګـورئ: جبـه، جرنـده، جونـد، جوبـل، جَـور، جـواك او ځينـې نـور. دلتـه دغـه بـره دانګرېـزي دالفـاظو صـوتي ادائيګـي بيـا کـه پـه فرانسـي کښـې وکتلـې شـي، نـو د دغـو ادائيګـي بيـا داسـې راځـي لکـه: ژورنـال، اژانـس، ټېکنـالوژي، پـروژه، ژنېـو، ژورنـالېزم وغېـره. اوس نـو دغـه فرانسـوي طـرز حـرف ' ژ' ادائيګـي کـه د پښـتو پـه جنـوبي لهجـه يـا ختـك قنـدهاري لهجـه کښـې اوځيـرو نـو پـه اسـانه ورېانـدې

پوهېدلی شو چې دغه توپیر هم هغسې د انګرېزۍ او فرانسوي په څېر دلته په پښتو کښې هم موجود دی. هم دغه نمونه د 'ښ' او 'ش' توپیر مثال ئې په جرمني کښې لیدل کېدلی شي لکه په جرمني کښې د **is** ادائیګي هلته هم دغه د پښتو د دوو لهجو په دود ده.

هغه وخت کله چې پښتانۀ په خپل مسکن کښې سره یو ځائ وو، یقیناً هلته به ئې ژبه (په مانا د لهجې) یوه او ساده وه. خو د ژبو د قانونِ فطرت او د قومونو د عروج او زوال په مصداق د تغیر واقع کېدل هر چرې او په هر شي کښې یقیني دی، ځکه نِژادي او ژبني یا لهجوي تغیر یواځې په پښتو او پښتنو کښې واقعت نۀ دی واقع شوی بلکې دا عملیات هر چرې، په هر قوم او هره ژبه کښې را منځته شوي دي. البته دومره قدر وئیلی شو چې د دغو عملیاتو د رامنځته کېدو اسباب به د وخت او زماني په حساب ځله جلا وو. دغه اسباب که یوه خوا د قومونو د داخلي نظام په اوښتون کښې ستر او مُهم عناصر بللې شي نو بلې خوا دا د هغه اولس د ژبې په پرمختیا او پرېوتیا (تنزل) باندې هم ډېر ژوراثر اچوي. بیا هغه مهال کله چې د یوې ژبې وئیونکي له خپل لومړي مسکن څخه وښوري یا ښورېدلي دي، نو دهغوئ ژبه کله هم هلته په هغه پخواني صورت نۀ پاتې کېږي بلکې د هغې په داخلي چوکاټ ، په صوتي نظام او په صورت یا په لیك دود کښې هم بشپړ تغیر واقع کېږي.

پښتون اولس چې پلارنی مسکن ئې افغانستان، د پاکستان شمالي برخې او یو څۀ قدر برخه ئې دابران په مشرقي پوله کښې میشتۀ دي، د تاریخ په اوږدو کښې په هر زمان یو با ارزښته او باتوره قوم بالل شوی . پښتون قوم د خپلو لوړو صلاحیتونو او جګو حوصلو له کبله د معاش او مهم جوئ په تکل تل له خپل پلارني مسکن څخه و هرې خوا ته ښورېدلی او خپور شوی، چې له کبله ئې اوس نۀ یواځې پښتون بلکې پښتو ژبه هم د جهان په هر ګوټ کښې اورېدل کېدلی شي. پښتو نۀ یواځې د پښتنو مورنۍ ژبه ده بلکې د پښتنو د ژوند ژواك ضابطهِٔ عمل او د پېژندګلوۍ آله هم ګڼله شي.

د نړۍ د يو شمېر نورو ژبو په څېر په پښتو کښې هم ژبني تغيراتو واقعت مونـدلی چې لـه کبله ئې په صوت او هيئت کښې واضح بـدلون رامنځته شوی. په خوا پښتو که يوه او ساده وه او پښتانۀ په يوۀ مرکز سره ډېرې وو ځکه نو د دوئ په ژبه هم کوم خاص خارجي اثرات نۀ وو پرېوتي، ولې هر کله چې پښتانۀ له خپل مرکز څخه را ښوېدلي، په نورو ورګډ شوي يا د نورو له خوا محکوم کړل شوي او يا ئې په ژبه د نورو قومونو اثرات په پراخه پيمانه لوېدلي، نو له دې کبله ئې ژبه هم په هغه پخواني دود نۀ ده پاتې شوې بلکې يو لازم اثر ئې له دې تغيراتو څخه اخيستی. د دې اثراتو له کبله يو خاص او لازم اثر دا وو چې د وخت او زمانې په تېرېدو سره پښتو سوکه سوکه هغه خپل اصليت له لاسه ورکړلو، کوم چې ئې پخوا کښې درلود. او پښتو په لهجوي توګه په څو ډوله ځله وا وښته. د پښتو دغه لهجوي اوښتون که څۀ هم په څو ډوله دی خو له دې څخه دوې اهمې ډلې چې يوه ته ختـﻚ \قندهاري يا جنوبي لهجه وئيله شي او دويمه يوسفزۍ \ ننګرهاري لهجه يا شمالي لهجه بلله شي. د پښتو دغه لهجوي اِختلاف د دوو خاص حروفو لکه: ''ږ او ژ'' او د '' ښ او ش '' له کبله رامنځته شوی. [ خو چونکې دلته دغه د ږ او د ښ يا د ژ او ش په لهجوي بڼه اوښتون ډېر اوږد او تاريخي بحث دی چې زمونږ له دې بحث سره علاقه نۀ لري ځکه دا بحث هم دلته پرېږدو]. دا هم د يادونې وړ ده چې پرته له دې دوولهجو بيا ځينې نورې وَړې وړې لهجې هم وجود لري، کومې چې په اصل کښې هم له دې دوو لهجو څخه ماخوذ دي. لکه د مثال په ډول: په ختـﻚ ا قندهاري لهجه کښې وزيري، مروت واله، کاکړي او ځينې نورې، او په يوسفزۍ لهجه کښې مهمندي، ننګرهاري، اپرېدي، غبلجه او يو شمېر نوري شاملې دي. خو د دې وړو وَړو يا ذيلي لهجو خاص پېژندنه بالعموم د حروفو په نسبت د اصواتو په ادائيګي پورې اړه لري يعنې تغير ئې په حروفو کښې نه بلکې په اصواتو کښې دی. لکه دمثال په ډول: وزيري لهحجه [ چې وروسته به د دې متعلق تفصيل درته وړاندې کړل شي]. او يا [بنوڅۍ لهجه] چې بشپړ تفصيل به ئې د بنوڅۍ لهجې څېړونکی په خپله مقاله کښې درته

وړاندې کړي ]. خو په دې بحث پورې مُتصل د دې خبرې ذکر کول به هم بې ځایه نهٔ وي چې د جنوبي لهجو په قطار کښې مروت واله لهجه بیا یو خاص امتیازي صفت لري، هغه داسې چې مروت واله لهجه دسالمې پښتونخوا د پښتو لهجو په مُقابل کښې د پښتو له مخصوص حروفو څخه دوه حرف بېخي په مُنفرد ډول استعمالوي لکه: د ''ج'' په ځای ''ځ'' او د ''ځ'' په ځای''ج'' بل د ''څ'' په ځای ''چ'' راوړل. د ''څ'' په اړه دلته یوه ضروري خبره کول غواړم چې: ښاغلي مُشتاق مجروح یوسفزي په درې میاشتینۍ مجله ''شنه زرغونه'' په روداد کښې یو ځای دا ذکر کړی چې ''څ'' په صوت کښې د ''څیم'' غږ دی نهٔ چې ''څې''، [چې ځینې خلق ئې په سیم سره هم ادائیګي کوي] خو زما په فکر د دې صوتي ادائیګي ''څیم'' نه بلکې ''څې'' ده، ځکه چې ''چې'' او ''څې'' یوه صوتي جوړه ده چې په هېڅ توګه دا له څیم یا سیم تلفُظ سره تړون نهٔ لري او که دا چرې څیم وی نو به د جیم او ځیم جوړه بلل کېدله.

## وزیري لهجه:

ښاغلي ډاکټر عبدالرزاق پالوال په خپل کتاب معیاري پښتو کښې یو ځای د وزیري لهجې په حقله داسې لیکلي دي چې :

"ستاسې به په یاد وي چې لومړنۍ تراډنۍ ژب څانګې له سهیلې وزیرستان څخه تر میدان ښار پورې خپرښت لارهٔ چې پکتیانۍ او وردګستانۍ ژب څانګې ئې هم په ځان کښې شاملولې. په وروسته کښې سهېلي او شمالي وزیرستان خپله لومړنۍ ژب څانګه ساتلې ده، ولې پکتیا والو او وردګانو درېیمه (خلجي) ژب څانګه خپله کړې ده چې ځکه نو له تاریخي پلوه څخه څلرمه ژب څانګه کېږي. خو د تراډنیتوب له مخې وزیري ژب څانګه لومړنۍ ژب څانګه ده ، او پکتیانۍ او وردګستانۍ ژب څانګه دوهمه تراډنۍ ژب څانګه ده". (۲)

د وزیري لهجې هغه مُنفرد خصوصیات چې د مقالې په وروستۍ برخه کښې به په بشپړ ډول درته واضح کړل شي، خو دلته هغه یو څهٔ

مخصوص اوښتونونه چې ښاغلي ډاکټر پالوال ورته اشاره کړې ده، ته ستاسو پام راګرځول غواړم.

"......په سیمه کښې دوهمې لهجې د لومړنۍ لهجې په منځ کښې ځای لاړۀ ، دغه د هېښتیا وړ مسئله ده چې نو ولې او څنګه داسې پېښه شوې ده، دوهمه لهجه په ښورنو یا حرکي غږونو کښې له لومړنۍ لهجې څخه توپیر لري. دغه په وزیرستان، پکتیا ، او وردګستان کښې غږنۍ درې دي وئیله کېږي. د دغې لهجې ټاکوني ممېزات داسې دي چې الف په واو (ا په و ) او واو په یې ( یائې معروف) سره اوړي، پلار په پلور، ښار په ښور، مور په مېر [خو یاده دې وي چې د مور په کلمه کښې یائې معروف نۀ ده بلکې یائې مجهول ده، ځکه نو دا دلته په دا کُلیه نۀ ده برابره] او توت په تیت غوندې وائي". (۳)

البته چرې چې ډاکټر پالوال د وزیري لهجې د ځانګړتیا او د پښتو ژبې په لهجوي چوکاټ کښې ئې دا د دویمې مُنفردې لهجې په توګه یاده کړې ده، نو له دې څخه د دې لهجې د ارزښت او لیا نورې لوړتیا اندازه هم ترې په اسانه لګېدلی شي.

"څنګه چې وزیرستان د کسې غږونو په سهیل کښې پروت دی، نو ئې د خلقو ژبه د خلجي ژب ځانګې له مستقیم اغېز څخه ګوښې اوخوندي پاتې شوې ده. تر یاد کړې ټِپي لړ و ډېر وروسته تراډنۍ ژب ځانګه پر دوو ژب ځانګو باندې وېشلې شوئې ده. نسبت د کسې غږونو و سلسلې ته یوه سهیلي ژب ځانګه ده چې خپل وربېښن اښا او اړا ئې ساتلي دي. دغه عموماً د غږېدونکیو په نامه سره وزیري ژب ځانګه بلله کېږي. دغه هغه تر مخنۍ دوهمه ژب ځانګه ده."(۴)

په وړاندې بحث کښې ښاغلي پالوال په خپل کتاب معیاري پښتو کښې د وزیري لهجې اوښتون د پښتو د ښورن غږونو په اساس په دوه ډوله ښودلی، یو هغه چې د ننې تراډني عواملو له خوا دی او بل هغه چې د باندني تراډني عواملو له خوا دی: لکه د مثال په ډول:

" لومړنی تراډنی عامل: دغه د دوهمې ژب ځانګې هغه عامل دی چې د لومړنۍ ژب ځانګې هر الف اا ا په او ا سره اړوي. څرګندوني ئې

داسې دي: ښار او ښور، لاس او لوس ، کال او کول، سپارلی او سورلی.
او د تراډنی دوهم عامل : تر دغه عامل لاندې د لومړنی ژب ځانګې اوږد مجهول واو او ا په دوهمه ژب ځانګه کښې په اوږده مجهوله یې اې سره اړاوۀ کېږي: تور او تېر، توپ او تېپ، تورزي او تېرزي، اور او یر [خو په اور کښې دغه واو مجهول نۀ دی بلکې معروف دی او دا مثال دلته سم نۀ دی بلکې دا یر دی او دلته (ي) له (هـ) څخه را اوړېدلې ده چې اصل ئې هور دی البته د هور دغه دویم واو بیا واو مجهول ضرور دی ]، کور او کېر، پوست او پېست". (۵)

خو ترکومه چې د وزیري لهجې تعلق دی، دا په اصل کښې د ختهك قندهاري لهجې څخه ماخوذ لومړنی تراډنی ژب ځانګه ده چې د دې په داخل کښې بیا نورې ژب ځانګې لکه بنوڅي، داوړي، ګربزي، وردګي، پکتیاي او ځینې نورې لهجې ورڅخه جوړې شوئې دي. چې اوس ئې په قبیلوي توګه یو رنګه رنګه ځانته شناخت پیدا کړی. خو په دی کښې شك نۀ شته چې دغه لهجې په اصواتو کښې له وزیري څخه ماخوذ دي او په صوتي ادائیګي کښې کوم خاص اِختلاف هم نۀ ورسره لري. البته هغه وخت ئې د توپیر حالت پیدا کېږي کله چې په دغه نورو لهجو کښې د لفظ په اخر کښې راتلونکئې یائي مخصوص او یائې مجهول باندې ترحده زیات ټینګار ورکړل شي چې له کبله ئې د دغو یګانو غږ دوه چنده ځله اوږد شي. مګرحال دا چې د اصواتو دغه ډول ادائیګي په خپله هم د وزیری د لهجو یو رنګه دود دی نۀ چې د هغو قومونو د لهجو ځانګړتیاده. یعني د دغو لهجو د خاص اصواتو ادائیګي د عام وزیري لهجې له دود څخه ماخوذ دی. خو بیاهم د لهجوي بحث په اساس دیګانو (یائې مجهول او یيائې معروف) له ټینګې ادائیګي څخه اوس د دغو قومونو لهجې په ځانګړي دود پېژندګلوي اِختیار کړئې ده لکه د مثال په ډول په بنوڅي لهجه کښې واړه اِختلاف یوائې هم دغه د یائې مخصوص په دود پورې مخصوص دی او هم دغې توپیر بیا په داوړي لهجې کښې ورسره شتون لرلی.

وزیـري لهجـه پـه خپـل قبیلـوي چوکـاټ کښـې د ننـه یعنـي خـاص پـه وزیـرو محسـودو کښـې دا بیـا ځانتـه هـم پـه دوه ډولـه ده. لکـه د احمـدزیو ( ځینـې احمـدزي لکـه کـالو خېـل ) او د اُتمـان زیـو ځانګـه او بلـه دویمـه ډلـه د احمد زیو وزیرو څخه د حسن خېلووزیرو او د محسودو ده.

د وزیـري لهجـې دغـه تغیـر د یوڅوحروفـو د اصـواتو د ادائیګـۍ پـه بنیـاد رامنځتـه شـوی چې لـه کبلـه ئـې خپـل مُنفـرد لهجـوي جوړښت اختیـار کـړی. کـه څـهٔ هـم ځینـې جدیـد ژب پوهـان لکـه : ډاکټـر عبـدالرزاق پـالَوال پـه ,, معیـاري پښـتو ،، کښـې پـه دې عقیـده دي چې وزیـري د پښـتو ځانتـه مُنفـرد تراډنـۍ لـوئ لهجـه ده چې د زمـانې تغیراتـو او نـورو ګاونـډیو لهجـو لکـه غېلجـه او یوسـفزۍ لهجـې بانـدې وربانـدې کـوم خـاص اثـر نـهٔ دی شـیندلی، پـه دا لحـاظ دغـه لهجـه تـر ډېـره پـه خپـل اصـل شـکل پـاتې شـوئې ده. پـه دې کښـې شـك نـهٔ شـته چې وزیـري یـوه تراډنـۍ لهجـه ده، مګـر دا خـو هـم حقیقـت دی وزیـري لهجـه پـه لـوئ سـر کښـې لـه ختـك ا قنـدهارۍ لهجـې څخـه مـاخوذ ده، چـې د ځینـو حروفـو د مُنفـرد صـوتي آدائیګـي لـه کبلـه ځانته یو لهجوي حیثیت لرلی.

د وزیـري لهجـې خـاص پېژنـدګلوي د یوڅـو خـاص حروفـو پـه صـوتي تغیـر کښـې ده لکـه د مثـال پـه ډول: الـف، واو مجهـول، واو معـروف، او لـه دې پرتـه ځینـې نـور واړهٔ واړهٔ لهجـوي تغیـرات دي لکـه: ،،ځ،، پـه ځـاي ،،څ،، راړول ( لکـه: څـه، روڅـه، ورڅـه او ځینـې نـور). د ،،ش،، یـو رنګـه اِسـتعمال او د ،،ژ،، یو رنګه اِستعمال.

۱: پـه دا څېـر ټـول وزیـر مسـید ،،الـف،، پـه واو معـروف اړَوي لکـه: کـار پـه کور، بازار په بزُور، کرار په کروُر، تیار په تیُور، تار په توُر او ځینې نور.

۲: دغسـې بیـا واو معـروف یـا هغـه واو چـې ترمخـه حـرف ئـې پـېش لـري، پـه یـائې معـروف اړَوي لکـه: کـوُز پـه کیـز، سـوُرپه سیـر، لـوُر پـه لیـر، بـوُر پـه بیـر او ځینـې نـور. ۳: خـو د وزیـرۍ لهجـې ځینـې وګـړي بیـا واو مجهـول پـه زېرحفیـف یـا د یـائې مخصـوص پـه رنګـه اداکـوي لکـه: لورپـه لېر، کورپه کېر، مـور پـه مېر، خـور پـه خېر، تـور پـه تېراو ځینې نور. دغـه د واو مجهـول پـه زېـر حفیـف یـا پـه یـائې مجهـول اړونـه پـه وزیـرۍ لهجـه کښـې

لـه وزيـرو څخـه تـول اُتمـان زي، د احمـدزيو کالوخېـل، بنـوڅي، دپکتيـا ځينـې کرلاڼـي قومونـه، وردګ او داوړي لهجـه کښـې عـام ده. خـود احمـدزيو وزيروڅخـه حسـن خېـل او مسـيد (محسـود) بيـا دغـه مجهـول واو نـۀ اړوي بلکـې مجهـول واو هـم پـه هغـه څېـر ادا کـوي لکـه څنګـه چـې پـه معيـاري پښتو کښې ادا کولې شي.

۴: د وزيـري لهجـې ځينـې وئيـونکي د عـام پښـتو پـه مطـابق ''کشـې \ کښـې'' تـوری پـه ''کـې'' سـره ادا کـوي، لکـه درسـت اُتمـان زي او لـه احمـدزيو څخـه کـالو خېـل. خـو يـو څـۀ ئـې هـم هغـه د ختـك لهجـې پـه مطـابق درُسـت اِسـتعمال پـه ''کښې\کشـې'' سـره کـوي لکـه: مسـيد او لـه وزيـرو څخـه حَسـن خېـل. خويـاده دې وي چـې دغـه د کشـې يـا کښـې پـه څېرادائيګي په بنوڅيانو اوبيټنيو او ځينې کاکړو کښې هم دغسې ده.

۵: پـه وزيـري لهجـه کښـې د فعـل پـه جملـو کښـې راتلـونکی ''ځ'' پـه ځـای ''څ'' اِسـتعمالولې شـي لکـه: د ځـه پـه ځـای څـه، د راځـه پـه ځـای روڅـه، د ورځـه پـه ځـای ورڅـه. خـو دا بـدلون يـوائې پـه وزيـرو پـورې مخصـوص نـۀ دی بلکـې د وزيـرې لهجـې پـه نـورو ځـانګو لکـه : شـيتکو ( بنـوڅي او داوړو) کښـې هـم دغـه پـه ''څ'' سـره ادا کـولې شـي. پـه وزيرمسـيد کښـې يـو څـۀ قبيلـې بيـا داسـې دي چـې هغـه د مـروت لهجـې پـه څېـردا د ''ځ'' حـرف پـه مقابـل کښـې ''څ'' نـه بلکـې ''چ'' وائـې لکـه: د وزيـرو لـه حسـن خېلـو څخـه پـه خـان دارخـان خېلـو کښـې دودي خېـل او پـه مسـيدو کښـې ---. [ د دې اِسـتعمال عمومـاً پـه دغـه برنـي ذکـر شـوي حرفـي ادائيګـي سـره کـولې شـي ] خـو لـه دې پرتـه پـه يـو څـو نـورو توريـو کښـې د دې اِسـتعمال پـه دا ډول دی لکـه: څـوك پـه چـوك، څـۀ پـه چـۀ، څلـی پـه چلـی، څرمشـکئې پـه چرمشـکئې، څلور په چلور او ځينې نور.

۶: پـه وزيـرو کښـې بيـا عمُـرزي يـا ايمـرزی قبيلـه پـه يـو خـاص موقعـه يـائې مخصـوص بيـا پـه يـائې معـروف اړَوي لکـه: پـه عـام وزيـري کښـې يـو تـوری'' دِلـې يـا دېلـې'' دوئ تـر ګړدوڅخـه مُختلـف پـه'' ديلـې'' ادا کـوي. کـه څـۀ هـم د دوئ دغـه ادائيګـي د بنـوڅي لهجـې پـه تـاثر کښـې لـه ''دَلـې'' څخـه اخيسـتل شـوی خـو د دوئ دغـه اوښـتنه نـۀ هغـه د بنـوڅي لهجـې پـه

دود پاتې شوې ده او نۀ د خپلې وزيرۍ لهجه په مطابق ده. او هم دغه هغه بنيادي لفظ دی چې د ګړدې قبيلې شناخت هم د دې توري د ادائيګۍ په بنياد کوله شي. خو په مجموعي توګه دغه قبيله په صوتي تغير کښې له بنوڅۍ لهجې څخه ډېره متاثره ده.

۷: دغه نمونه په بره اُتمان زيو کښې مداخېل د ' ژ' حرف د عام ختټك لهجې په څېر نۀ ادا کوي بلکې د غېلجه لهجې څخه په تاثر کښې دغه د يوسفزۍ لهجې حرف "ږ" ادا کوي.

۸: په عام معياري پښتو کښې کوم 'د' يا دال چې د جملې يا فقرې په اِبتدا يا مينځ کښې د توريو د تړون په غرض عام اِستعمالولې شي، دغه په وزيري کښې بالعموم په دال زېر حفيف (دِ) يا دال او ورسره مجهوله يا راوړلې شي لکه: دې يا دِ. د نمونې په توګه په دغه يو څو جُملو کښې دغه توپېرته ئې پام و کړئ (اول په عام پښتو کښې): "د شپږو سؤ بادام، د دوو سؤ مَويز، د زرو زنغوزي، د درې سؤ متهك او د پينځو سؤ پسته را واخله" اوس په دغه پېراګراف کښې د وزيري لهجې د' د ' يا د دال توپېرته پام وکړئ: " دې شپېږې سوې بادوم، دې دوې سوې مَويز، دې زرې زنغوزي، دې درې سوې مَتهك وو دې پينځې سوې پسته دِرسره رو ووخله".

۹: دغسې د پيرروښان او خوشال بابا د ليك دود په څېر په وزيري کښې د"ځ" د پاره د دال په رنګه صوت ادا کولې شي. لکه: ځما او دِما، ځموږ او دِميږ او ځينې نور.

۱۰: په عام معياري پښتو کښې د يو مقابل شي يا د يو چا د پاره عموماً د "دا" توری راوړل کېږي، خو په وزيري کښې د (دا) پر ځای هرکله د ' دغه' کلمه اِستعمالېدله شي لکه: دغه څوك دی ، دغه شی ؤ ايغي ته وِر که، دغه دې دې کيمه لوريه رووړاو ځينې نور. د دې نور صورتونه دغه، دغ، دغي، دغو، دغوئ، دغې، دغسې دي او اړوند صورتونه ئې اوس داسې دي لکه: دا، دي، دو، دوئ، دې، داسې او داس وغېره.

۱۱: په وزيري کښې هائې ملفوظي چې اوس اکثر په پښتوکښې په هائې مخلوطي يا دوه سترګې (هـ) اړولې کېږي، په يائې معروف اړولې

شـي، لکـه: هويـه پـه يويـه، هورپـه يـور (چـې اُور ئـې ناسـم شـکل دی)، هو(وو)يا هـان پـه ' ئـې' او پـه وزيـري کښـې ئـې نـور مـات شـکل 'ېِ' پـه مانـا ده 'وو' راځـي. دوه سـترګې هـ يـا هـائې مخلـوط پـه وزيـري کښـې زياتـه نـهٔ شـي اِسـتعمالېدله. ولـې چـې د هـم، هـر، هغـه، هلتـه او ځينـې نـور تـوري پـه وزيـري کښـې پـه هـهٔ، ار، اغـه، اولتـه پـه دود اوړي (چـې دغـه ګـړد د يـائې ملفوظي دي).

۱۲: پـه وزيـري کښـې هـائې مخفـي يـا هغـه 'ه' چـې پـه تـوري يـا لفـظ کښـې ئـې غـږ ښـخي کـم محسوسولې شي يـو خـو ئـې اِسـتعمال ښـخي کـم دی بـل هلتـه چـرې چـې پـه تـانيثي جُملـو کښـې حـرف ' ه' رادرومـي، پـه وزيـري کښـې دلتـه د 'ه' غـږ پـه الـف سره اړول کېـږي لکـه: " دغـه جلکـۍ دې چـالير دو، دې کـيم ځـوئ نـه روغليـې دو، دې څـهٔ عُمـر دو، مـور ئـې پـه کـور دو، دې رنګـه سـکڼه دواو ژغېـدو ئـې نـهٔ زده". پـه دغـو جملـو کښـې ' دو' پـه اصـل کښـې اړونـد شـکل دی د'ده'، لـه دې څخـه يـوه نتيجـه دغـه هـم را وځـي چـې په وزيري کښې هائې مخفي په الف سره اوړي.

خـو پـه عمـومي توګـه کـه وکتلـې شـي نـو لـه معيـاري لهجـې څخـه د وزيـري لهجـې غـټ تـوپېر هـم پـه دغـه درې صـوتي تغيراتـو کښـې دی لکـه: الـف پـه واو معـروف اوړېـدل، واومعـروف پـه يـائې معـروف اوړېـدل، واومجهـول پـه يـائې مجهـول اوړېـدل او دهـائې مخفـي پـه يـائې معـروف اوړېدل قابـل ذکـر دي. هـم دغـه درې اوښـتونونه د وزيـري لهجـې پـه نـورو ځـانګو کښـې هـم پـه دغـه ځېـر دی. لکـه : پـه بنـوځي، داوړي، ګربـزي، وردګـي، پکتيـاي او ځينـې نـورو کښـې. البتـه لکـه څـهٔ رنګـه چـې ډاکتـر پـالوال پـه معيـاري پښـتو کښـې واضـح کـړې ده چـې وردګـي او پکتيـاي اوس پـه خپـل اصـل شـکل نـهٔ دي پـاتې بلکـې دا لـه خلجـي لهجـې څخـه زيـاتې متاثره شوې دي.

پرتـه لـه دې د وزيـري لهجـې د وئيونکيـو څـهٔ خصوصـيات دغـه هـم دي چـې هغـوئ هـر حـرف د قواعـدو مطـابق سـهي او تـر ډېـره حـده د مخـرج لـه قوانينـو سره سم ادا کـوي. هـر لفـظ ډېـر خـالص او پـه پرېکـړې غـږ سره وائـي، البتـه هغـوئ پـه ځينـو لفظونـو کښـې يـا پـه هغـه حروفـو کښـې چـې صـوت ئـې

په پورته جګېږي، تر ډېره حده زيات فشار وربانديې راولي، چې له دې کبله په داسې توريو کښې د زور غږ تر الف پورې ور لوږوي. يعنې هغه صوتونه چې اواز ئې لږ پورته خېږي په هغوبانديې د الف زبر اضافه ورکوي لکه : کرونده او کَروَنده، غر او غَر، سر او سَر، ور او وَر، جنګ او جَنګ، ننګ او نَنګ، ډهنګ او ډَهنګ، سکروټ او سکَروټه، پلندر او پلَندَر، کورکمن او کورکَمَن، کوتره او کَوتَره، بلندره او بَلندره، ژرنده او ژَرنده، پېوند او پېوَند، ځيګر او ځيګَر، تالبر او تاَلبَر او ځينې نور. خو په ځينې نورو صورتونو کښې بيا ديو لفظ وروستى حرف ته بېخي زيات زانګ (جهول) ورکوي چې له سببه ئې هلته د زېرحفيف په ځاۍ د يائې مخصوص اوږد غږ ادائيګي راوځي. لکه : دلې او دِلې، دلته او دِلته، ورکه او ورِکه، مير (لمر) او ميِر وغېره.

بل دا چې د وزيري لهجې وئيونکي خپل ترمينځه په سنجيده ناستو کښې زومعنې، مهمل، علامتي او يا په اشارو کنايو کښې خبرې ډېرې ځله اړوي، او هم دغسې د جرګو، مرکو يا ځينې قومي ناستو کښې يو تربله په خبرو کښې متلونه، مثالونه او واړۀ واړۀ نقلونه د دليل په توګه راوړي.

د وزيري لهجې په حقله دا بحث که څۀ هم په دې لنډه تنګه مقاله کښې ګرد نۀ شو سره را غونډولى، خو که دا ووايم چې زما هم دغومره اِستعداد وو، چې مې له تاسو شريك کړلو. خو که خداۍ چېرته توفيق را نَصيب کړلو نود پښتو د بيله بيلو لهجه په اړه به په بشپړ ډول معلومات بيا کله درسره شريك کړم .

## نتائج او سفارشات:

۱: د پښتو هره لهجه ۀ ګرډو پښتنو ته د قدر وړ او اساسي ده، هره لهجه څومره چې په خپل ټاټوبي کښې د ارزښت او د انفراديت وړ ده، هم په دغه څېر مونږ ته په ټوله پښتونخوا کښې ارزښتناکه او د احترام وړ ده. خو لهجوي اِفتخار په ځان پورې نښلول او له مرکزيت تېرېدل او د مرکزي او معياري پښتو په مقابل کښې ځاي يا مقامي لهجه ته فوقيت ورکول په مانا د نفاق تيغي زرغونول دي.

۲: د پښتو هره لهجه ته دې د قدر په سترګه وکتلې شي، په دا خاطر چې دلهجو په توپير کښې دپښتو د اصل او معيارلازياتې نخښې را زرغونېدلی شي.

۳. زما په فکر يو شاعر، اديب يا يو ليکوال ته په کارده چې د علاقائي لهجې په مقابل کښې دې هغه نۀ يواځې په معياري ليك دود ځان پوهـ کړي، بلکې خپلې هرډول ليکنې دې په دغه معياري ليك دود کښې د عام کولو هڅه وکړي، خو په مانا د دې نه چې علاقائي توريو ته دې هم شا کړي.

۴. زمونږ ډېر ليکوالان داسې دي چې هغه د حرف او صوت په پېژندنه، کښنه، او ادائيګې کښې بېخي ډېرې تېروتنې کوي، ځکه په کار ده چې د پښتو هر ليکوال دې د حرف او صوت سهي او سمه پېژندګلي وکړئ شي او په هغه صورت دې خپلې کښنې وکړي لکه څۀ ډول چې د کښلو دود ورته ټاکل شوئ دی.

۵. هغه څوك چې دليك دود او د لهجو په توپير کښې دلچسپي لري، ورلره پکارده چې د پښتود ليك دو په اړه ليکل شويو کتابونو څخه په سنجيدګي سره استفاده وکړي. په دا لړ کښې په اوس مهال کښې ليکل شوی يوه تازه کتاب د اروابناد منتظر بېټني، 'اتۀ حرفونه دوويشت اوازونه' او د ښاغلي مُنيب راخېل له خوا خپروېدونکې 'شنه زرغونه' سلسله نمبر ۱۱، مارچ جون، ۲۰۱۲ عيسوي کال مجله دې هم په خصوصيت سره ولولي.

۶. هغه څوك چې د يو معياري ليك دود په لټه کښې دي، هغه مهال بريالي کېدلی شي چې هغوئ په کرلاټې لهجو کښې بالعموم اوپه وزيري لهجه بالخصوص مهارت و لري. خو پرته له دې په لراو بر کښې د پښتو معياري لجهې هڅې تر هغه نۀ شي سر ته رسېدلی تر څو چې پښتانۀ ليکوال د مروت والې لهجې د ځينې حروفو ادائيګې په پام کښې نۀ وساتي.

۷. پرته له دې د ژبې همه ګير ترقۍ او ودې له پاره دا هم ضروري ده چې د هغه ژبې ليك دود او اِملا نظام دې په يو رنګه او مربوط نظام کښې

اغـړل شـوی وي. ځکـه چـې د ژبـو پراختيـا، پرمختيـا، لوړتيـا او ژبـې جامعيـت د هغـې ژبـې پـه غښـتلي اِملائـي نظـام او د ليـك دود پـه مربـوط نظـام پـورې اړه لـري، نـۀ چـې د هغـې ژبـې قـدامت او يـا د وئيونکيويـا د نفوسو ډېرښت ځکه په دا مصداق:

"د يـوې ژبـې همـه ګيـر ترقـي، د هغـې وده، پراختيـا، پرمختيـا او جامعيـت پـه دې کښـې دی چـې هغـه دې پـه پراخـه پيمانـه د يـو شـمېر ډېـری اِنسـانانو تـر منځـه د ربـط پيـدا کولـو صـلاحيت لرلـو جوګـه وي او ورسـره ورسـره دې دا اِسـتعداد هـم و لـري چـې دحروفـو او اصـواتوقاعدې دې معلـومې، مُنظمـې، پـه اِعتـدال مبني او همـه ګيريـت دې و لـري. مګـر د اِمـلا د اِصـلاح ضـرورت هغـه وخـت پـه شـدت سـره مخسوسـولې شـي کلـه چـې د يـوې ژبـې ليکـوالان هـر چـرې خپـل مخيـزې کښـنو تـه فوقيـت ورکـول شـروع کـړي او هغـه دليـك پخوانـی بڼـه پـه يونـوي انـداز سـره د وړانـدې کولـو هڅـه پېـل کـړي، چـې لـه دې څخـه نـۀ يـوازې د هغـۀ د خپـل ليـك بڼـه ګـډه وډه شـي بلکـې پـه داسـې کولـو سره هغـه و نـورو تـه هـم مُشـکل پيـدا کـړي. بلکـې دغـه غلطـۍ بيـا د وخـت پـه تېرېـدو سـره سـوکه سـوکه د يـو سـند درجـه و منلـې شـي او ائندۀ د پاره د مثال په توګه تکرارولې شي".(۶)

پـه دغـه څېـر کـه ووائيـو چـې دغـه پـه اصـل کښـې د پښـتو د لهجـو ښـکلا، حُسـنِ لطافـت، خُـوږ والـی او د پراخـې لمنـې قـوي اِحسـاس دی چـې د نـړۍ د هرې ژبې غږ يا صوت په خپلو اصواتو کښې په اسانه سره را اړولی شي:

" خـو پـه لنډه توګـه کـه ووائيـو چـې پښـتو د خپلـو ګاونډيو ژبـو پـه مقابـل کښـې د حـروفِ هجـا او اصـواتو پراخـه ادائينـه لـري او د نـړۍ د يـو شـمېر نـورو ژبـوهر نمونـه صَـوت ادائيګـي تـه د خپـل اختيـار کـړي هجـا پـه نظـام کښـې غوره طريقه کار لري". (۷)

او پـه اخرکښـې د ښـاغلي ډاکټـر پـالوال پـه قـول : يـو ملـت پـه خپلـه ژبـه سـره ملـت وي، بـې لـه ژبـې ملـت نـۀ شـته، يـو ملـت پـه ښائسـته او خونـدورې ژبـې سره نازېدلی شي چې ادبيـات ئې هم و خپلو او هـم و نـورو تـه د خوښـۍ رنـګ او بـوئ او پېغـام و لـري څـو ژبـه هـم عملـي وي او هـم ادبـي وي.ا و د ښاغلي ډاکټر پالوال دغه خبره هم د يادونې وړ ده چې :

"کــه پښـــتو کــاږئ ، نــو دلَـرې پښــتونخوا د کلاســيکي پښــتو غونــدې سمه او بشپړه پښتو وکاږئ، مه ئې ناقصه کوئ !"(۸)

***

**یادګیرنـــه**: دغـه مقالـه پـه شـلمه فـروري پـه کـال دوه زر ديـارلس کښـې پـه بنـون ښـار کښـې د انجمـن ترقـي پسـند مصـنفين لـه خـوا د مــورنۍ ژبــو د اهميــت او د اروابښــاد منتظــر بيټنــي پــه يــاد کښې رابلل شوي سيمينار کښې اروولې شوې ده.

# حوالې

(۱) سهیل، بُخاري ډاکټر، اُردو زبان کا صوتی نظام اور تقابلی مطالعه، اِسلام آباد، مُقتدره قومی زبان، ۱۹۹۱ء، م- ۷
(۲) (معیاري پښتو، ډاکټر عبدالرزاق پالوال، ۱۳۸۴ لمریز کال، مخ ۴۰۹
(۳) (معیاري پښتو ډاکټر عبدالرزاق پالوال، ۱۳۸۴ لمریزکال، مخ ۵۳
(۴) (ډاکټر پالوال، معیار پښتو، مخ ۶۱_ ۶۲
(۵) (ډاکټر پالوال، معیاري پښتو، مخ ۱۱۴ – ۱۱۳
(۶) ډاکټر نصرالله وزیر، د لیک دود او اِملا ځینې مسائل، پښتو، پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون، خ. پښتونخوا، شماره ، سلسله نمبر، ۲۰۱۳، م م
(۷) ډاکټر نصرالله وزیر، د لیک دود او اِملا مسائل، م
(۸) پالوال، مخ اخیري